مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند
۲۰۱۸/۰۳/۳۱

# د استاد دوست شینواري ۲۵ ام تلین

## او د ده د علمي مهربانۍ یوه خاطره



سرمحقق دوست شینواری له نن څخه پنځه ویشت (۲۵) کاله مخکې، د ۱۳۷۲ ل کال د حمل په یولسمه نیټه، په کابل کې وفات او خاورو ته وسپارل شو. دا ځو کربنې د ده لوړ فرهنګي شخصیت ته د درناوي او یاد ژوندي ساتلو په پار لیکم.

سرمحقق دوست شینواری د افغانستان یو حقداره، د لوړو زدکړو خاوند او ډیرې غني تجربې لرونکی قلموال و چې د مطرح لیکوالو په ډله کې شمیرل کیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

زه په لومړي ځل د استاد بینوا د «اوسني لیکوال» د کتاب له لارې د سرمحقق دوست شینواری له بیوګرافی او فرهنګي علمي شخصیت سره اشنا شوم. استاد بینوا په اوسني لیکوال کې د دوست شینواري د بیوګرافی او قلم چلولو په باب د ځلوینتمي لسیزې د مالوماتو پر بنا لیکنه کړې ده؛ خو دوست شینواري له هغه نه وروسته خپل فرهنګي فعالیتونه، لیکوالي او تخلیق له توقع نه زیات پراخ کړی او داسې یو شمیر آثار یې چاپ او لوستونکو ته وړاندې کړل چې تر نن پورې په پوهنتوني او اکاډیمیکو کړیو کې د یو ماخذ په توګه د اعتبار او استفادې وړ دي.

په اوسني وخت کې هم د سرمحقق دوست شینواری بیوګرافي او د علمي کارونو او آثارو د پېژندنې په برخه کې کار شوی دی. زه په ځانګړې ډول له ښاغلي انجنیر زهیر شینواري نه ډېره مننه کوم چې هرکال د استاد دوست د تلین په مناسبت د ده بیوګرافي او د آثارو لست په خپرولو سره د هغه حقداره دانشمند حق ادا کوي.

دغه راز له ښاغلي ډاکټر لطیف یاد نه هم مننه کوم چې د استاد دوست شینواري بیوګرافي او د آثار لست یې په خپله فیسبوک پاڼه کې خپور کړی دی او په دې توګه یې د هغه بزرګوار علمي حق ور ادا کړی دی.

دوست شینواري د علم په زدکړې پسې ډېرې لارې وهلې دي او د پوهې د ترلاسه کولو له پاره یې د جومات او مدرسې دروازې وټکولې:

ـ په ۱۳۳۹ ل کال یې عربي دارالعلوم پای ته ورساوه،

ـ په رسمي دفترونو کې یې مطبوعاتي کار پیل او خپله علمي تجربه پخه کړه،

ـ د پوهې د تر لاسه کولو له پاره بهر ته هم لاړ خو په پای کې یې د پخواني شوروي اتحاد د رستوف دولتي پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي څخه د ماسترۍ ډیپلوم تر لاسه کړ،

ـ او د ژوند تر پایه د یو علمي مرکز، د افغانستان د علومو اکاډیمی علمي غړی پاتې شو.

زه د خپلو سترګو د لیدلي حال په استناد په مسؤلیت سره وایم چې سرمحقق دوست شینواری داسې مهربانه علمي شخصیت و چې خپله زدکړې او پوهه یې هیڅ کله له چا نه نه سپموله، تل یې هڅه کوله چې ځوانان او نوی نسل په نوې او عصري بڼه وروزل شي.

زه د سرمحقق دوست شینواری د ۲۵ ام تلین په پار د ده علمي برخورد او علمي مرستې یوه بیلګه چې له ما سره یې په یوه لوی علمي سیمینار کې، د یوې علمي لارښونې او مهربانۍ په بڼه کړې وه، یادوم:

د شپیتمې لسیزې د پیل کلونه و، په کابل کې، د افغانستان د لیکوالو ټولنې له خوا د «کابل ښار» د هر اړخیزې څېړنې او پېژندنې په پار یو لوی سمپوزیم جوړ شوی و. لومړنی عمومي غونډه یې د کابل په انترکانتیننټل هوټل په بالروم تالار کې د ګڼ شمیر کورنیو او بهرنیو پوهانو په ګډون جوړه شوې وه. زه (آصف بهاند) هم د سمپوزیم اصلي غړی وم او مقاله مې ورته لیکلې وه.

له عمومي غونډې نه وروسته د «کابل ښار» د پېژندنې په باب په جلا سالونونو کې، د بیلابیلو برخو غونډې جوړېدونکې وې. ما د خوشال په اشعارو کې د کابل د یادونې د څرنګوالي په هکله مقاله لیکلې وه او د بیلګې په ډول مې د خوشال هغه بیتونه د ده له کلیاتو را ټول کړي و چې د کابل یادونه په کې شوې وه لکه:

د کـابل مـیوې خـوراک وې د تـوتـیــانـو
پرې خواره شول تور کارغان له هندوستانه

*****

و شـمـال وتــه یـې غــر بــلــورسـتــان دی
شرق کشمیر غـرب یې کابل او بدخشان دی

په اغلب ګومان چې د هغې ورځې د غونډې مشري دوست شینواري کوله. کله چې ما خپله مقاله ولوستله، په غونډه کې څېنو حاضرینو، د غونډې رئیس ته زما د مقالې په باب خپلې کتبي پوښتنې سپارلې وې. یوه پوښتنه په کې دا وه چې د خوشال منظور له بلورستان څخه کوم ځای دی، هغه سیمه اوس چیرې موقعیت لري؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

زه په ډېر جرأت سره دا اقرار کوم چې تر هغي شيبي زه نه پوهيدم چې «بلورستان: د سوات شمال ته غرنی سيمه ده چې د قراقروم تر غرونو پورې رسيږي.(حبيبي عبدالحی: د کابل چاپ د سواتنامې ۱۳۵۸ د متن د څلورم مخ لمنليک)

ما ته يوه وړه پرزه راکړل شوه چې استاد دوست شينواري د يادې پوښتنې ځواب په دانشمندانه او لنډ ډول ليکلی و. ما هغه پوښتنه هلته په ډېرو ساده الفاظو سره، په هغه بڼه چې استاد دوست راته ليکلې وو، خواب کړه؛ خو د ده د مهرباني او علمي مرستې مثبته خاطره تر نن پورې زما د ذهن په دهليزونو کې داسې انګازې کوي چې هر کله مې دې هڅوي چې خپله زدکړې پوهه بايد له چا نه ونه سپموم او خپله تجربه او پوهه څنګه، په کوم ځای کې له چا سره شريکه کړم.

ما شخصاً د دې بزرګوار دانشمند په جنازه کې ګډون درلود، د قبر په څنډه کې، د وروستي ديدن په شيبه کې هم د ده دا مهرباني زما د سترګو د کرکې نه دباندې وړاندې وروسته کيده او داسې يې وژړولم چې هيڅکله به مې هېر نه شي.

اروا يې ښاده
او
ياد يې تلپاتې!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ